# د درویش دراني د کرد ګلو په نامۀ شعري مجموعه کښې علامت نګاري

# Symbolism in Dervish Durrani's poetry book of Kar da Gloo

Imran Khan Tareen★

**Abstract**

Symbols are the key part of poetry. Symbols have variety of usage areas, like religion, culture, folklore, history, literature, poetry, prose, and etc. The researcher pointed out the symbols in Darewsh Durani's poetry. Darwesh Durani's has been written more than five books of poetry. But the researcher has studied only one book *Kar da Guloo* and pointed out the symbols in this book.

**Key words:** Symbolisms, Importance of symbolism in poetry, Symbolisms In Darwesh Durrani's poetry.

سېمبولزم:

سېمبولزم یا علامت یوه داسې کلمه ده چې د ژوند په هر اړخ کښې استعمالېږي، خپل نوم لري او ارزښت لري. د انسان په لومړیو وختو کښې هر څۀ د علاماتو په توګه استعمالېدۀ. او د انسان ژبه علامات ؤ. ځکه د یوې نظریې مطابق انسان په لومړي پړاو کښې خبرې کولاے نۀ شوې او د علامتونو له لارې به یې یو بل پوه کول. خو د لیکلو او وئیلو دپاره هم خپل علامتونه وټاکل شول او دغه علامتونه بیا د انسان ژبه جوړه شوه. د علامت ځانګړتیا ده چې دا په هر مذهب، هره ټولنه، هر تهذیب او په هر علم کښې ژوندے دے. یو علم داسې نشته چې په هغۀ کښې علامتونه نۀ وي. ځکه علامتونه د قصو د را غونډولو ذریعه وي. یعنې یو شوک دا غواړي چې خبره تر نورو ورسوي نو دغه خبره په حقیقي بڼه کښې کول ګرانه او اوږده شي خو چې کله په علامت کښې وشي نو هم پېغام ورسي او هم وخت بچاو شي.دغه علامتونه په هر وخت په هر دور کښې ژوندي وي. علامتونه له وخت سره خپله په وجود کښې راځي. ژوند چې په کومو پړاؤنو کښې داخلېږي علامتونه په خپله زېږوي. په علامتي لیک کښې د یو لفظ دوې معناوې وي چې یوه سطحي وي او بله ژوره وي. خو کوم چا چې په علامت سر خلاص نۀ شي هغه یې سطحیت ګوري. حالانکې لیکوال په ذهن کښې د سطحیت پر ځاے ژوروالے مقصد وي. ځینې لیکوالان علامتونه د وخت د

★ Lecturer Department of Pashto Lorali University Baluchistan

جبر په سوب د حقیقي نومونو پر ځاے یو فرضي تورے غوره کړي او خپل لیک و سر ته ورسوي. او ځیني لیکوالان بیا د خپل یو ځانګړي طرز یا اسلوب په وجه دغه لاره خپله کړي. دغه علامتونه کارول آسان کار نهٔ دے. او نهٔ هر شاعر یا لیکوال دا علامتونه کارولے شي.

له علامتونو سره یوه خبره، وینا، لیک، شعر، نثر ښائسته کېږي په ادب کښې سېمبولزم هر څوک نهٔ شي استعمالولے ځکه چې علامات کارولو دپاره د ډېرې مطالعې ضرورت دے، چې هر کردار دپاره یو داسې علامت وټاکل شي چې له هغهٔ سره سمون خوري.

کله نا کله داسې وخت راشي چې د علاماتو د لارې خبرې کېدل پکار دي. د انسان خیال او فکر لوړ دے خو توري ورسره کم دي نو ځکه د علاماتو له لارې خپل خیال او پیغام رسول غواړي. په هغوے کښې د انسان ویناوې، د ګاډیانو بتۍ اشارې، د لاسونو اشارې او داسې نور چې د دغو له لارې انسان بل انسان په آساني سره پوه کولاے شي. علامات د ژوند برخه ده. که هم په انګرېزي ادب کښې تر ډېره حده پورې علامات کارول شوي دي خو په پښتو ادب کښې هومره ارزښت نهٔ لري. په پښتو ادب کښې که هم نمونې د هر شاعر په شاعري کښې شته خو په یو مخ علامتي ژبه کښې خبرې کولو والا ډېر کم لیکوالان دي، ځکه چې علامات داسې خبرې دي لکه ګونګې ژبه!

د ګونګي په ژبه ډېر کم خلک پوهېږي دغه رنګه په علامتي ویناو هم ډېر کم خلک پوهېږي. او په ادب کښې د اولس ژبه کارول پکار ده. ځکه د یوهٔ لوے فیلسوف هېګل په اړه یو روایت دے وایي چې،

> "یو ځلې یو چا له هیګل څخه وغوښتل چې د دهٔ د اثر یوه برخه ورته تفسیر کړي هیګل په ځواب کښې ورته ووئیل کوم وخت چې ما دا عبارت لیکهٔ د هغهٔ په معنا یو خداے پوهېدهٔ او بل زهٔ؛ خو اوس یوازي خداے تعالے پرې پوهېږي." (1)

علامات په یوهٔ حالت کښې نهٔ وي ، د انسان له سوچ او فکر سره سم روان وي. کله علامات هم ژوندۍ بڼه خپله کړي او کله دومره ګونګي شي چې کوم څوک یې کاروي وروسته هغه هم نهٔ په پوهېږي.

> "د علامت اصطلاحي معنا ده یو لفظ د خپلې لغوي معنې نه علاوه څهٔ بلې معنې دپاره راوړل علامت دے. یا لفظ مجازي معنې کښې استعمالول علامت دے، ځکه چې د یو لفظ مجازي مفهوم علامتي مفهوم وي. لکه

شمع د علم علامت دے. تله د انصاف علامت دے، پروانه د عشق علامت دے، ګندا بوټي د ملک دښمنه او د اسلام دښمنه علامت دے. "(2)

علامت توري تعریف کول دومره ګران دے لکه څنګه چې د ادب تعریف کول مشکل دے. دلته دا خبره کول ضروري ګڼم چې د علامات معنا نشان ، اشاره، کنایه او مارک دے. لکه څنګه چې په ریاضي کښې د ضرب، منفي، جمع او تقسیم دپاره خپل علامات ورکړل شوي دي. خو په ادب کښې د علاماتو دومره آسانه معني نۀ وي. په ادب کښې علامت ډېره وسیع او لوړه معنا لري چې په یوه جمله کښې د علامت تعریف کول ډېر ګران کار دے. ځکه چې علامت او ادب داسې توري دي چې د هغو تعریفونه په لنډو ټکو کښې نۀ شي بیانېدا ے. دا ډېر فراخ تورے دے. د دواړو دپاره چې کوم ادیب کوم تعریف خوښ شوے دے هغه یې د علامت او ادب تعریف ګڼلے دے. د علامت دپاره پوهانو ابهام تورے هم کارولے دے ځکه چې پوهان وايي چې ابهام د شاعري ښائست دے. په کوم ادب کښې چې ابهام موجود وي، هغه به ډېر خوندور وي. تشبیه، کنایه، استعاره او تلمیح دا هر څۀ په خپله یو قسم د علامت په توګه استعمالېږي. په ادب کښې شاعر یا نثرنګار خپل احساسات، خیالات او جذبات او مقاصد د علاماتو له لارې په ځانګړو تورو تر ټولنې رسوي، چې هم په کښې خوند وي او هم په کښې ګرفت نۀ وي. علامات لیکوالان په دوو ځایونو کښې استعمالوي چې اول خپل خیالات په کم الفاظو تر نورو رسول، دویم دا چې کله یو نا خوشګواره حالات راشي چې سړے په صفا ټکو کښې خبرې نۀ شي کولاے نو بیا علاماتي بڼه خپله کړي، چې هم خپل مقصد او پېغام تر نورو ورسوي او هم د خلګو له خوا پر پابندي نۀ وي. د ژوند په نورو اړخونو کښې د علامت کارولو سره سره په ادب کښې هم ډېر زیات علامتونه کارول شوي دي. په پښتو ادب کښې هم علامات کارول شوي دي.

په انګرېزي ادب کښې علامتي لیک د شېکسپیر په ډرامو کښې موندلے شو. لکه د هغۀ یوه ډرامه As you Like It په نامۀ ده. په دغه ډرامه کښې شېکسپیر نړۍ ته یو د سټېج نوم ورکړے دے چې دا یو سټېج دے او هر نر او ښځه راځي او په یو وخت کښې ډېر کردارونه ادا کوي.

***As you Like It*** **(By William Shakespeare)**

"All the world's a stage, And all the men and women merely players; they have their exits and their entrances;And one man in his time plays many parts,"(3)

"سېمبولزم تل د انتقاد له قلمرو څخه تښتي، او په ماهرانه توګه خپل ځان له تشريح او توصيف څخه ژغوري." (4)

دغه رنګه د پښتو په کلاسيکي شاعري او نثر کښې که څۀ هم ډېر زيات علامات نۀ دي کارول شوي خو نخښې يې ضرور موجودې دي. د خوشحال خان په شاعري کښې علامات کارول شوي دي، د رحمان بابا په شاعري کښې، د حميد بابا په شاعري او دغه رنګه د کاظم خان شېدا په شاعري کښې علامات تر ډېر حده کارول شوي دي.

حميدبابا په خپله شاعري کښې علامات ډېر زيات استعمال کړي دي. وايي چې،

"سپينې رېږې زما عشق کوتره روپۍ کړ
هيڅ يې نۀ قبلوي ښکلوي په سودا کښې" (5)

په دې شعر کښې سپينه رېږه د بوډاتوب او زوړوالي علامت دے چې کله په رېږه کښې سپين ويښتۀ پيدا شي نو معلومه شي چې د بوډاتوب و خواته روان شو.

رحمان بابا په خپله شاعري کښې تخم تورے د علامت په توګه استعمال کړے دے.

"ځان ژوندے په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لويي غواړې د خاورو په مقام شه" (6)

په دې لوړ شعر کښې رحمان بابا د يو انسان د ښۀ ژوند تېرولو په اړه وئيلے دے، او تشبيه يې له يو تخم سره ورکړے دے، ځکه چې تر څو پورې يو تخم په ځمکه کښې ښخ نۀ شي تر هغه پورې يوه ښه مېوه نۀ شي کولاے. نو انسان که يو ښۀ ژوند غواړي او د نورو دپاره د يو ښۀ سباون رهبر جوړېدل غواړي نو اول به ځان خاورې کوي.

دغه رنګه کاظم خان شېدا په خپله شاعري کښې حباب تورے ډېر زيات استعمال کړے دے. هغه وايي.

"د سېلاب په دوش روان لکه حباب شوي
اې زما کوره تر ما آواره تر يې" (7)

په دې لوړ شعر کښې کاظم خان شېدا حباب تورے د خپل ژوند سره تړلے دے، چې د يوۀ علامت په توګه يې بيان کړے دے. کاظم خان شېدا دغه حباب تورے په ډېرو ځايونو کښې بيان کړے دے.

"د دريا له سرد جوشۍ د حباب زړۀ چوي
شېدا قطع د اُميد بويه له خپلو" (8)

په شلمه پېړۍ کښې د شاعرۍ سره سره په نثر کښې په باقاعده توګه د علاماتو په بڼه کښې افسانې او ناولونه وليکل شول. ځکه چې د وخت ضرورت سره هر څۀ مينځ ته راځي. ځکه وايي ضرورت د ايجاد مور ده. نو کله چې د يو شي ضرورت وړاندې شي نو ضرور به هغه تورے او څيز مينځ ته راځي.

"علامت د افسانې روح دے.دا ضروري نۀ ده چې ګني يو خاص علامت دې مخې ته کښېښودې شي او افسانه دې پرې وليکلے شي. خو چې د کومې افسانې په موضوع کښې ژورتيا وي، نو علامت به په کښې په خپله را پيدا کېږي" (9)

په علاماتو کښې دا ستونزه شته چې کله دې په يو توري يا يوې جملې کښې سر نۀ شي خلاص نو بيا پوره ليک نه خوند نۀ شي اخستلے. ځکه چې په يوۀ توري کښې سوچ بندولو سره که څۀ هم ټول ليک ووئيل شي خو سوچ به دلته بند وي نو نور ټول ليک بې مقصده پاته شي. لوستونکے مقصد ترلاسه نۀ کړي. خو د هغۀ دپاره دا ضروري ده چې يو ليک به په څو واره ووئيل شي نو بيا به لوستونکي خپل مقصد ته ورسي.

> "Symbolism is everywhere; symbolism exists whenever something is meant to represent something else. **Symbolism** is a figure of speech that is used when an author wants to create a certain mood or emotion in a work of literature. It is the use of an object, person, situation or word to represent something else, like an idea, in literature. Some common types of symbolism include" (10)

سمبوليزم په هر ځاى کښې شتون لري؛ کله چې يو څۀ د بل څۀ استازيتوب کولو لپاره وي. سمبوليزم د بان يوه څېره ده چې کارول کېږي کله چې يو ليکوال غواړي د ادب په کار کښې يو ځانګړے مزاج يا احساس رامينځته کړي. دا د يو شي ، شخص ، وضعيت يا کلمې کارول دي چې د بل څۀ استازيتوب کوي ، لکه د نظر په څير ، په ادب کښې. د سمبوليزم ځينې عام ډولونه پکې شامل دي.

اوس به دلته د ژوند په بېلابېلو اړخونو کښې د علاماتو نخښې وګورو چې د ژوند په بېلا بېلو اړخونو کښې علامات کارول شوي دي. له هغوے څخه څو نمونې به د مثال په توګه وړاندې کړو.

The dove is a symbol of peace

کونتره د امن علامت دے.

A red rose, or the color red, stands for love or romance.

یو سور ګل یا سور رنګ د محبت یا د رومانس علامت دے.

Black is a symbol that represents evil or death.

تور یو علامت دے چې د برائي یا د مرګ استازیتوب کوي.

A broken mirror may symbolize separation.

یوه ماته ښیښه د بېلتون علامت دے.

د سپوږمۍ شپول د باران علامت دے

اناتول فرانس وایي

"سبمولیزم نۀ د څۀ شي توصیف کوي او نۀ د څۀ شي نوم اخلي. (11) "

" د سمبولیستانو اعلامیه (مانیفستو) د لومړے ځل لپاره د سپتمبر په (۱۸)نېټه، کال (۱۸۸۶)کښې د موري آ(Moreas) له خوا د (فیګارو Le Figaro)په ادبي خپرنه ضمیمه کښې خپره شوه." (12)

> "Semiotics is the study of sign systems. It explores how words and other signs make meaning. In semiotics, a sign is anything that stands in for something other than itself. This lesson focuses primarily on linguistics signs." (13)

ژباړه: سیمیټکس د علامت د نظام مطالعه ده. په دې کښې دا معلومېږي چې توري او نور علامتونه څنګه معني ورکوي. په سیموټکس کښې یوه نشاني هغه ده چې د خپلې معني پرته یوه بله معني ورکوي. دغه سبق په بنیادي توګه د ژبې په درجه کښې راځي.

دا یو زوړ تورے دے خو په نولسمي پېړۍ کښې دغه تورے د تحقیق سره مخ ته رالے. دغه سیمو ټکس تورے په لومړے ځل "فرډیننډ ډي ساسور" وکارول.ساسور د ژبې ماهر هم وۀ په دې وجه یې د سیموټکس په مطالعه کښې ډېره زیاته مرسته وکړه.

دغه لیک یعني علامت پښتو ته د انګرېزي Symbol نه اخذ شوے دے. په انګرېزي ژبه او په ادب کښې ډېر زیاته شاعري او نثر په علامتي بڼه لیکل شوے دے. دغه علامت په پښتو کښې د نورو شاعرانو سره سره درویش دراني په شاعري کښې هم ډېره زیات کارول شوے دے.

درویش دراني شاعري په آساني کښې د رحمان بابا غوندې ده او په موضوعاتو کښې د خوشحال د شاعري رنګه ده. البته دے یو خپل طرز او اسلوب لري. د درویش دراني شاعري ځانګړتیا هم دا ده چې ژبه یې ساده ده. او په شاعري کښې یې یو څو داسې علامتونه کارولي دي چې هم دغه علامتونو په وجه یې نن خپل ځانګړے طرز او اسلوب موندلے دے. دا داسې علامتونه دي چې د بل شاعر په شاعري کښې نۀ موندل کېږي. اسلوب موندل آسان کار نۀ دے. د اسلوب له لارې یو شاعر، لیکوال یا وینا وال پېژندل کېږي. د درویش په شاعري کښې هم ځیني داسې علامتونه شته چې د هغۀ په وجه پېژندل کېږي.

درویش درانے په خپله یو پوه انسان دے. هغه په هر څۀ پوهه لري. د قام، وطن او ژبې تاریخ ورته معلوم دے. او د خپل قام او وطن فکر ورسره شته.نو ځکه د انسان نفسیاتو هم خبر دے. او په کومه طریقه چې یوانسان د بل انسان سره ظلم وکړي او یو قام د بل قام سره د انسانیت په خلاف کوم څۀ کړي دي دا هر څۀ یې د خپلې موضوع برخه ګرځولي دي.ادب پخپله په انسان کښې د انسانیت یو علامت دے.

“**Symbolism** initially developed as a French literary movement in the 1880s, gaining popular credence with the publication in 1886 of Jean Moréas' manifesto in Le Figaro. ... In painting, **Symbolism** represents a synthesis of form and feeling, of reality and the artist's inner subjectivity.” (14)

سمبولیزم په پېل کښې د 1880 م کلونو کښې د فرانسوي ادبي غورځنګ په توګه وده وکړه ، په جیان موریاس په لي فیګارو کښې په 1886 کښې د خپرونې سره مشهور اعتبار ترلاسه کړ. په نقاشۍ کښې ، سمبولیزم د واقعیت او احساس ترکیب څرګندوي ، د واقعیت او د هنرمند داخلي فرعي فعالیت.

کر د ګلو شعري مجموعه:

د انسان نیمه ژبه علامات دي. ځکه چې د انسان په ژوند کښې نیمې خبرې د علاماتو له لارې کېږي.که چېري علامات د انسان له ژوند څخه وایستل شي نو د انسان فکر به ډېر محدود شي. د یو بل پوهه کولو دپاره به د پوره اوږده اوږده بحثونو لیک پېل شي. ځکه چي علامت

د خبرو یا د بحث پس منظر وي. علامت ډېره اوږده خبره په یو څو تورو کښې سرته رسوي. علامتونه د لیک ښائست وي. د لیکوال پوهه څرګندوي. او د لیکوال تخلیقي صلاحیت زیاتوي. او لوستونکي متاثره کوي. کله کله لیکوالان علامتونه له مجبورۍ نه هم کاروي. چې هم خپل پېغام ورسوي او هم ځان له جبر او زور نه خلاص کړي. ځکه چې کله کله داسې وخت راشي چې په ساده تورو کښې پېغام نۀ شي رسولے نو بیا د علامتونو لاره خپله کړي. د درویش په شاعري کښې چې څۀ علامتونه کارول شوي دي. هغه علامتونه د جبر له وېرې نۀ بلکې د خپل یو ځانګړي طرز په توکه کارول شوي دي. درویش دراني چې کوم علامتونه کارولي دي هغه تړول د دۀ د ځانګړي طرز څرګندونه کوي. درویش دراني ته هم د دغه ځانګړي تورو د ډېر زیات د کارولو په وجه پوهان او ادیبان د ځانګړي سبک خاوند وایي.

پوهاند زیار په خپل پښتو بدلمېچ کښې لیکي :

,,تشبیه او استعاره دواړه انځوره که عیني وي یا ذهني، هله پر سمبول ( (Symbol اوړي چې له تشبیه نه (مشبه) لرې کړي او (مشبه به) پاتې شي او له استعارې نه چې مستعارله هیسته شي او ( مستعار منه) پاتې شي.)" (15)

د درویش یواځي کرد ګلو په نامۀ شعري مجموعه کښې هم دغه لاندې توري د علامت په توګه کارول شوي دي. او هم دغه علامتونه د درویش د شاعرۍ د ځانګړي طرز پېژند ګلوي کوي.

| ځراغ | لمر | اغزے | رڼا | تُوره | جنګ | زخم | ژړا | کاڼے | خنجر | ګلاب | غشي | بلا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | ۶ | ۱۸ | ۱۰ | ۱۰ | ۷ | ۶ | ۶ | ۹ | ۵ | ۵ | ۷ | ۱۱ |

دا هغه علامتونه دي چې د درویش شاعري له نورو شاعرانو څخه بېلولے شي. هر وخت چې په یوه غزل کښې دغه توري بار بار تکرار شي نو چې چا هم څۀ نۀ څۀ د درویش شاعري وئیلې وي هغۀ ته به دا معلومه شي چې دا د درویش شعر دے. بې شکه د نورو شاعرانو په شعرونو کښې به هم دغه علامتونه موجود وي خو هغه به په اوړو کښې د مالګې حېثیت لري. د هر شاعر په شاعري کښې یو څۀ داسې علامتونه دي چې د هغۀ شاعري په پېژندل کېږي. او علامتونه هر وخت شاعر له خپل ماحول او چاپېریال څخه اخلي. یو لیکوال یا شاعر چې په کومه سیمه کښې ژوند کوي نو هغه ماحول پر ده اثر وکړي او په هغه چاپېریال کښې چې کوم اصطلاحات کارول کېږي هغه اصطلاحات د خپلې شاعري علامتونه وګرځوي. درویش چې

په کومه سیمه کښې ژوند کوي، د هغه له شاعرۍ څخه څرګندېږي چې ماحول پر ده اثر کړئ دے. دا ټول هغه علامتونه دي چې د هغهٔ طرز په پېژندل کېږي. دلته به د کر د کلو شعري مجموعې څو شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کړو چې هغهٔ په خپله شاعرۍ کښې تر کوم حده علامتونو ته ارزښت ورکړئ دے.

"درېدل غواړي زما وستا په مینځ کي
د زړهٔ سره! یو دېوال را پسې ګرځي" (16)

دېوال ګرځېدل دا یو تجسیم هم دے او یو علامت هم دے. دېوال که څهٔ هم یو بېل څېز دے، خو شاعر دلته له رقیب سره تشبیه کړے دے. دېوال یو څېز له بل څېز نه پټوي او رقیب هم د دوو مئینو د بېلتانهٔ سوب ګرځي یعني د دوو مئینو تر مینځ یو قِسم دېوال دے. اوس په دې شعر کښې شاعر دوه صنعته کارولي دي. یو وار یې رقیب ته له دېوال سره تشبیه ورکړې ده او بل ئې دېوال ته د ګرځېدو صلاحیت ورکړے دے چې یو تجسیم دے. دېوال له رقیب سره ورته کول یوه تشبیه ده. او دېوال یې د علامت په توګه هم کارولے دے. یعني په شعر کښې تجسیم، تشبیه او علامت کارول شوي دي.

"مېږي تا ته درښودله څهٔ خبره
را کوز نهٔ شوې ورته تهٔ له خپله قده" (17)

مېږے چې د مځکې پر سر ډېر کوشنے مخلوق دے. په دغه شعر کښې د مېږي تورے د علامت په توګه کارول شوے دے. شاعر په دې شعر کښې د مېږي تورے د کمزورۍ په معنا کارولے دے. یعني کله کله د انسانانو ترمینځ دومره زیات لیرې والے راشي چې بیا د کمزورې طبقې خبره نهٔ اورېدل کېږي او څوک ورته د غوږ نیولو دپاره تیار نهٔ دي خو لکه د پښتنو متل دے چې که هر څو هوښیار یې لېوني ته هم غوږ نیسه. د زدکړې دپاره تر خپل قد راکوزېدل معنا خپل غرور، شان و شوکت او جاه و جلال تر شا کول او د علم ملغرې چې چېرې وي راټولول ولې چې علم او پوهه ملغرې دي او دا د مومن میراث دے هو شرط دا دے چې تر خپل قد به ور راکوزېږي.

"لکه بلا یوه د کال تر پایه راځي
دلته ستا درې سوه پنځهٔ شپېتهٔ شپې خدایه! راځي"
(18)

په دغه شعر کښې د بلا توری علامت په توګه کارول شوی دی. په دې شعر کښې بلا د مصیبت او تکلیفونو دپاره د علامت توري کارولی دی. یعني شاعر وايي چې په کال کښې درې سوه پنځۀ شپېتۀ شپې دي خو یوه شپه داسې نۀ ده راغلي چې په هغه کښې به تکلیف نۀ وي راغلی. یعني هره ورځ او شپه یو نۀ یو تکلیف سره مخامخ کېږو. او دا مو په قسمت کښې لیکل شوي دي. په دې شعر کښې د پښتون وطن د معروضي حالاتو انځور کشي د شعر په علامتي ژبه شوې ده.

"دا کله کله وي چې یو و نیم نښان خطا کړي
ستا د ښو غشي پر زړو باندي اکثر لګېږي" (19)

غشي توری د علامت په توګه کارول شوی دی. غشی یو داسې نښان دی چې کله پر انسان ولګېږي نو ډېر زیات خوږ/زخمي شي. دویمه خبره دا ده چې غشی خلګ په دې د جنګ په وخت کاروي چې غشی سیده ځي او وهل پر ځای کوي. نو دلته یې د غشي توری د استعارې په توګه اخستي دی. د ښو دپاره د غشي علامت یو عام علامت دی او له شفاهي ادب سره سره په دیواني ادب کې هم کارونه ښخي ډېره ده.

"چې د باز خویونه ووینې په چا کې
امر وکړې چې د دۀ وزر ور پرې کړه" (20)

په دې شعر کښې شاعر د باز علامت کارول دی. د باز کار څۀ دی؟ د باز کار الوتل، په جګو جګو غرونو پرواز کول، او خودي په کښې ده. یعني مړ به شي خو داسې غوښه هیڅ کله نۀ خوري چې دۀ پخپله ښکار کړې نۀ وي. په دې شعر کښې شاعر د ځینو خلګو دپاره د باز علامت کارولی دی چې هر څوک که د لوړ پرواز اراده وکړي او خودي په کښې وي نو د هغۀ وزر به ضرور پرې کېږي. د ټولنې د لوړې طبقې دغه خوی د ټولنې له تاریخ سره سم را روان دی. د کښته طبقې استعدادونه همېشه هم دغسې ځپل شوي دي.

"هره بلا چې ځي زما له کوره
وايي زۀ لاړمه اوس بله راځي" (21)

د بلا تورے د علامت په توګه کارول شوے دے. بلا يو داسې کردار دے چې هغه د انسان د ژوند دپاره خطره جوړېدے شي. نو دلته هم شاعر دا وايي چې يوه بلا ځي بله راځي. دا د وطن او د قام نصيب دے چې په قسمت کښې يې هم دغسې ليکل شوي دي. د پښتنې غميزې ځومره رښتينې انځورکشي په دې شعرونو کښې شوې ده. يو مصيبت تېر شوے نۀ وي بل راځي او دا لړۍ اوس دومره اوږده شوه چې شاعر په بلا دلته عمرونه تېر کړل.

"له اغزي نۀ يمه له ګله په ژړا يم
ستا په رنګ زۀ هم بلبله! په ژړا يم" (22)

شاعر ځان دلته له بلبل سره تشبيه کړے دے او د تشبيه وجه د دواړو ژړا ده. شاعر دلته د خپل محبت په داستان کښې د رقيب ذکر د اغزي په توګه کوي خو په ژړا له هغۀ نۀ دے بلکې د ګل يعني يار جور و جفا يې ژړوي.

"زندګاني به تل تر تله داسې ګرانه نۀ وي
هره بلا به زموږ خوا ته را روانه نۀ وي" (23)

دلته شاعر يو وار د خپل ژوند د ننني حالت تصويرکشي کوي چې هر مصيبت زموږ خوا ته راځي لکه کاڼے چې د يتيم له سره ځان نۀ چپوي خو بيا بيرته دا هيله هم کوي چې دا حالت به تلپاتې نۀ وي.

"جوړېدا ے شوه خو تا ياره جوړه نۀ کړه
زما زړه نه دې هنداره جوړه نۀ کړه" (24)

مئينان تل يو د بل د بې غورۍ څخه ګيله من وي. شاعر هم ګيله کړې ده چې ياره ما که اظهار نۀ شو کولاے ته خو پوهېدې. تا خو کولاے شو چې زما په زړۀ کښې دې خپل ځان کتلے و خو تا بيا هم و نۀ کړو.

"تۀ پرېشانه يې چې شپه راغله ډېوه دې نشته
و موږ ته نۀ ګورې چې ورځ مو شي بې لمره تېره" (25)

د ښهٔ شعر تر ټولو لويه خوبي دا وي چې د هر صورت حال مطابق معنا ترې اېستل کېدا ے شي. مونږ يوه معنا دا هم ترې اېستلا ے شو چې شاعر دلته د ټولنې کښته طبقې د هغو ستونزو ذکر کوي چې لوړه طبقه يې ببخي محسوسولا ے نهٔ شي او دا تشريح يې هم مونږ کولا ے شو چې د مئينانو هغه سختۍ بيانوي چې د ښکلو پام ډېر په ګرانه هم نه ور اوړي.

"چې کوم وګړي يې د زړهٔ د پاسه داغ لګوي
دا لېونے ګوره هغو لره څراغ لګوي"۲۸ (26)

ټولنه هر کله د ريفارمرزو بېقدري کوي خو د اصلاح غوښتونکو لويه خوبي دا ده چې بيا هم خپل کار ته دوام ورکوي. هغه پوهېږي چې خلګ نهٔ پوهېږي ځکه هغو ته د ناپوهۍ سزا نهٔ ورکوي بلکې د هغو د ښېګړې کار بيا هم جاري و ساري ساتي. شاعر هم دلته دې اړخ ته اشاره کوي.

"له زمانو پس چې تهٔ بيرته پر دې لاره راځې
زما کشتۍ به لا وتلې له طوفانه نهٔ وي" (27)

دلته شاعر کشتۍ تورے د نصيب دپاره د علامت په توګه کارولے دے. د کشتۍ سفر هر وخت په داسې ځا ے کښې وي چې هيڅ درک يې نهٔ وي چې تر کومه ځايه ولاړه شي. چې تر خپل منزل پورې به ورسي او که به په لاره کښې ډوبه شي. شاعر د خپل قسمت تشبيه له کشتۍ سره ورکړې ده. يعني شاعر له خپل نصيب څخه دومره په ژړا دے، چې د ژوند هر څهٔ ځنې هېر دي. د ژوند له سختو کړاونو سره مخامخ دے. او شاعر يوائې د خپل ځان خبره نهٔ بلکې د ټول قام خبره کوي.

"دا يو لګيا يو، يو څراغ تر بل څراغه پورې بل رسوو
مونږ تر سهاره د رڼا د خورولو دا عمل رسوو" (28)

څراغ تورے يې د علامت په توکه کارولے دے. په ظاهره خو يې معنا هم داسې ده. چې تر څو په کور کښې رڼا موجوده وي نو يو بل به ليدل کېږي کله چې تيارهٔ شي نو هر څهٔ به ورک شي. نو د دغه رڼا او دغه څراغ د ژوندي ساتلو دپاره ټوله شپه په وينښه تېروي. لاکن که په بله معنا ورته وګورو نو دغه څراغ ژوندے ساتلو دپاره د تېلو پر ځا ے د وينې ضرورت وي. د هځې او

هلو ځلو ضرورت وي. دغه څراغ څخه معنا په قام کښې شعور پیدا کول او په وطن کښې رڼا خپرول دي.

"دا وګړي په تیارو کي دي لوے شوي
په لیدو یې د رڼا کړې سترګي پټې"۲۱ (29)

کله چې د ړاندهٔ و مخ ته آیینه کښېږدې نو د هغهٔ دپاره دغه آیینه هیڅ معنا نه لري. په دې شعر کښې تیاره د پسماندګۍ او رڼا د ترقۍ په معنا کارول شوي دي. دلته شاعر د خلګو د ذهنیت خبره کوي، چې خلګو ټول ژوند په تیارهٔ کښې تېر کړے دے. تیارهٔ معنا دا نهٔ چې لمر نهٔ شته یا رڼا نهٔ شته البته په پسماندګۍ کښې یې تېر کړے دے. نو په داسې حالت کښې د انسان ذهن بلکل هم دغه رنګه جوړ شي او هغه بیا هغه تیارهٔ یعني پسماندګۍ خوښوي. هغه ترقۍ نهٔ غواړي.

نتیجه: درویش په شاعري کښي لکه علامتونه، ترکیبونه، تشبیحات، استعارې، تلمیحات، محاورې، موتیف او داسي دا ټول هغه اصطلاحات دي چي د درویش شاعري په پېژندل کېږي. خو دلته یواځې پر علامت خبره شوې ده. دا ټول هغه علامتونه دي چي درویش هر څه لیدلي دي. چي په وطن کښي کوم حالات روان دي. او قام له کومو کړکېچنو حالاتو سره مخامخ دی. څنګه د انسان استحصال کېږي. څوک په جنګونو کښي له مینځه ولاړ، څوک د غربت په وجه ورک شو. نو محقق هم هغه علامتونه په ګوته کړي دي چي درویش د خپلې شاعري برخه ګرځولي دي. چي د هغه شاعري په پېژندل کېږي.

حوالې:

(1) لیکوال: څېړندوے روهي، محمد صدیق، ،ادبي څېړنې دانش خپرندوے ټولني تخنیکي څانګه، پېښور،ص ۴۲۴
(2) میر ،فضل ،خټک، فضلیات، دویم اشاعت فروري ۲۰۲۰ء، چاپ ځاے اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور، ص،۳۶۸
(3) https://literarydevices.net/symbolism/
(4) لیکوال: څېړندوے روهي، محمد صدیق، ،ادبي څېړنې دانش خپرندوے ټولني تخنیکي څانګه، پېښور،ص ۴۱۹

(5) د حمید بابا دیوان، چاپ کال ۱۳۶۱، ۱۳۶۳، د افغانستان د علومو اکېډمۍ، د ژبواو ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه، ص ۲۲۱

(6) د عبدالرحمان بابا دیوان، ترتیب و تدوین او څېړنه ،خلیل، محمدالله، پروفیسر او قېس نیمروز،چاپ کال ۲۰۱۷، پښتو اکېډمۍ بلوچستان کوټه، ص، ۶۵۵

(7) کاظم خان ،شېدا دیوان،د افغانستان د علومو اکېډمۍ، د ژبواو ادبیاتو مرکز، پښتو ټولنه،ص ۲۳

(8) ،ص ۲۲

(9) لیکوال: څېړندوے روهي، محمد صدیق، ،ادبي څېړنې دانش خپرندوے ټولنې تخنیکي ځانګه، پېښور،ص ۴۱۹

(10) https://literarydevices.net/symbolism/

(11) لیکوال: څېړندوے روهي، محمد صدیق، ،ادبي څېړنې دانش خپرندوے ټولنې تخنیکي ځانګه، پېښور،ص ۴۱۹

(12) لیکوال: څېړندوے روهي، محمد صدیق، ،ادبي څېړنې دانش خپرندوے ټولنې تخنیکي ځانګه، پېښور،ص،۴۲۲

(13) https://www.google.com/search?q=what+is+semiotics+symbols

(14) https://www.google.com/search?q=background+of+symbolism+in+world&oq=background+of+symbolism+in+world&aqs=chrome..69i57j33.12319j1j4&sourceid=chrome&ie=UTF-8

(15) شعري سېمبولونه ،،د څېړندوے علمي رتبې لپاره، څېړندوے عبدالغفور لېوال، د افغانستان اسلامي جمهوریت ،دعلومو اکادمي د بشري علومو معاونیت د ژبو او ادبیاتو مرکز ،دپښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت ،دادبیاتو او متنپوهنې ځانګ، ۱۳۹

(16) دراني، درویش، کر د ګلو، جاپ کال،۲۰۱۳، چاپ ځا کراچي، چاپ کوونکے، صحاف نشراتي موسسه، ص،۷۸

(17) همدغه اثر، ۵۵

(18) همدغه اثر، ۷۴

(19) همدغه اثر، ۵۴
(20) همدغه اثر، ۶۲
(21) همدغه اثر، ۲۳
(22) همدغه اثر، ۵۷
(23) همدغه اثر، ۴۴
(24) همدغه اثر، ۴۰
(25) همدغه اثر، ۴۰
(26) همدغه اثر، ۱۷
(27) همدغه اثر، ۳۴
(28) همدغه اثر، ۲۸
(29) همدغه اثر، ۴۰
(30) همدغه اثر، ۳۵
(31) همدغه اثر، ۲۱

## (References)


i. Likwal, Rohi, Muhammad Sadiq,Adbi Serany,Danish Khaperdwi Tolani Tekhniki Sanga, Peshawrer, p 424
ii. Mir, Fazal, Khatak, Fazlyat,, Dwim Ashaat, Febervery 2020, Chap Zai Araf Printers Muhla Jungi Peshawer, p368
iii. https://literarydevices.net/symbolism/
iv. Likwal, Rohi, Muhammad Sadiq,Adbi Serany,Danish Khaperdwi Tolani Tekhniki Sanga, Peshawrer, p 419
v. Da Hameed Baba Dewan, Chap Kal 1361-1363, Da Afghanistan da Ulomo Academy, Da Zhabo aw Adabyato Markaz, Peshawer, p 221
vi. Da Abdul Rehman Baba Dewan, Tarteeb wa Tadween aw Serana, Khalil, Muhammad Ullah, Professor aw Qess Nemorz, Chap kal 2017, Pashto Academy Balochsistan Kwata, p 655
vii. Kazim Khan Sheda, Dewan, Da Afghanistan da Ulomo Academy, Da Zhabo aw Adabyato Markaz, Pashto Tolana, p 23
viii. Humdagha, p 22

ix. Likwal, Rohi, Muhammad Sadiq,Adbi Serany,Danish Khaperdwi Tolani Tekhniki Sanga, Peshawrer, p 419

x. https://literarydevices.net/symbolism/

xi. Likwal, Rohi, Muhammad Sadiq,Adbi Serany,Danish Khaperdwi Tolani Tekhniki Sanga, Peshawrer, p 419

xii. Likwal, Rohi, Muhammad Sadiq,Adbi Serany,Danish Khaperdwi Tolani Tekhniki Sanga, Peshawrer, p 422

xiii. https://www.google.com/search?q=what+is+semiotics+symbols

xiv. https://www.google.com/search?q=background+of+symbolism+in+world&oq=background+of+symbolism+in+world&aqs=chrome..69i57j33.12319j1j4&sourceid=chrome&ie=UTF-8

xv. Sheri Sembolona , Serndoi Abdul Ghafoor Lewal, Da Afghanistan Islami Jemoryat, Da Ulomo Academy, da Bashari Ulomo Maonat Da Zhabo aw Adbyato Markaz, Da Pashto Zhabi aw Adbyato Institute, da Adabyato aw Matanpohani Sanga, p 139

xvi. Durani, Darwesh, Kar Da Gullo, Chap kal, 2013, Chap Zai Karachi, Chap Kawanki, Sahaf Nashrati Mosasa, p 78

xvii. Humdagha Asar, 55

xviii. Humdagha Asar,74

xix. Humdagha Asar,54

xx. Humdagha Asar,62

xxi. Humdagha Asar,23

xxii. Humdagha Asar,57

xxiii. Humdagha Asar,44

xxiv. Humdagha Asar,40

xxv. Humdagha Asar, 40

xxvi. Humdagha Asar,17

xxvii. Humdagha Asar,34

xxviii. Humdagha Asar,28

xxix. Humdagha Asar,40

xxx. Humdagha Asar,35

xxxi. Humdagha Asar,21